مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۸/۱۹

# د سرونو په بایللو ازادي

موږ د سرونو په بایللو ازاد ژوند ګټلی
پردي پالو بې ارزښتو بیا وړیا بللی

د یووالي برم مو احمد شاه و ځلولو
خو بې خونده تور لاسونو زلبلن ښودلی

اوس دا خاوره پر یو موټي افغان غبږ کړي
را رسېږئ نیم ژواند تن مو له کمره ښویدلی

هر لورې وسوسو کې د شیطان اهریمن لاس
په بیدار ذهن به مومي د بریا سپین ځلی

لوړ مرام یون ته اړتیا په توونده منده
ازادي مو د ژوند ساه ده، دی یقین کوټلی

هاجرې! د استقلال ګټل دې تل وي مبارک
د امان شاه امانت کې هر افغان غښتلی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ